

# کله چي دښمن دمخه لا دننه وي

Ketabton.com

ژباړن: حبيب الرحمن مسلم

Author : Dr. D. K. OLUKOY © 2013

mswordcoverpages.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زمونږ پیغام سرلیک شوي دی ؛کله چي دښمن د مخه لا دننه وي؛ افسسیان وایي: هیڅکله هم شیطان ته ځاي مه ورکوه. معنی دا ممکنه ده د ځینو کسانو لپاره چي دښمن ته اجازه ورکړي د هغه او یه د هغي په ژوند کي. او که چیري ته دښمن ته ځاي ورکړي هغه به ښه درانه واړوي. لکه دا عنوان چي وایي ؛چي دښمن ته ځاي مه ورکوه؛ اکثره خلګ د دوي په دښمنانو پسي بهر ګوري خود بده مرغه چي دښمن ددوي په دننه کي وي. جیمز وایي: [تاسو خپل ځانونه په خداي وسپارۍ] د شیطان سره مقابله وکړۍ نو شیطان به ستاسو څخه و تښتیږي. معنی که تاسو د شیطان سره مقاومت ونه کړی هغه به ستاسو سره پاتي شي په داسي حال کي چي شیطان ستاسو ښکاره دښمن دی. زمونږ ناخبره خلګ چي کوم ناوړه کارونه ترسره کوي، دا روښانه ده چي زمونږ راتلونکی نسل به په تاریکیو کي ژوند کوي. مونږ ډیر ښایسته او پیاوړي اختراعات لرو مګر اکثره یي د خلګو د تباهی لپاره دي، په شمول د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو خلکو چاچي دوي اختراع کړي دي. دا ښکاره ده چي دښمن کوښښ کوي او سخت کار کوي چي تا د خداي د کور ځخه را وګرځوي دا خبره تر نن ورځي پوري ريشتيا پاتي شوي ده. خلګ تر رڼا له تياري سره مينه دا ځکه چي ددوي خپل عملونه بد دي. نن سبا د مسيحيانو په مينځ کي ډيرۍ يي فضول خرچه دي چي د خوګانو په منځ کي ژوند کوي. د عيسويانو په مينځ کي اوس د شيطاني دماغ لرونکي ورو ورو نفوس کوي. اکثره عيسويان په تدريج سره د تاريکيو په لور ځي جهل او ناپوهي زياتيږي. په کرار کرار ناوړه کارونه لکه زنا او فريب کاري پکي قرار نيسي. ددي ترمخه هيڅکله هم دومره تاريکي د سړيو او ښځو په دماغ کي نه وه لکه اوس چي ده. په ريشتيا هم اخره زمانه هم دا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا څه معنی چي دښمن ته ځاي ورکړي؟

دښمن ته ځاي ورکول يعني ستا په ژوند کي ستا هره ګناه ده. اکثره خلګ په دښمن پسي بهر ګوري اما دښمن تر مخه لا دننه داخل شوي وي.

دښمن ته ځاي ورکول دښمن ته دا اجازه ورکول دي چي ستا ژوند ته ورسيږی. شيطان ته ځاي ورکول لکه ته چي په تاريکه خونه کي خوراک کوي. کوم خلک چي په ميلمستيا روږدي شوي دي بايد دعا وکړي چي زهر و نه خوري. دوي بايد ډير دقت وکړي. کله چي څوک مريض وو او د يو بوټي پيژندونکي په واسطه جوړ شو. دښمن ته ځاي ورکول ديته اجازه ورکول دي چي دښمن ستا په ژوند کي يوه ودانۍ جوړه کړي. که چيري ته نه غواړي چي دي ودانۍ ته ادامه ورکړي نو ته هغه مات کړه او ودانۍ جوړول ودروه. دښمن ته ځاي ورکول شيطان ته ددي اجازه ورکول دي چي ستا په سرنوشت تبادله وکړي. سرنوشت کيداى شي بدل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي يو څوک پالبين ته ځي تر څو د خپلي ايندي پيش بيني وکړي او پالګر ويني چي هغه يو رنګين سرنوشت لري. هغه به خپل فضيلتونه غلا کول پای ته ورسوي. دښمن ته ځاي ورکول ځان په فساد او ګناه کي ګيرول دي. دا د لوړ امر دوکه ده کله چي تاسي فکر وکړئ چي پرته له واده ستاسو سره ويده وي او ستاسو سره مينه لري. په ريشتيا داسی يو شخص ستاسي ښکاره دښمن دی. دښمن ته ځاي ورکول خپګان ته ددي اجازه ورکول دي چي تا کنټرول کړي. خپګان ډير ګران پريوزی. خپګان زمونږ حقيقي طبيعت څرګندوي. قهر او خپګان ژوند لنډوي ايا غواړئ چي ژوند مو لنډ شي؟ نه! نو بيا د غوصي او خپګان نه لري و اوسه. ستا غوصه ستا د مخالف لوري وسله ده. او څوک چي تا په غوصه کوي هغه تا له منځه وړي. يو ځل چي دښمن ووينی چي غصه ستا کمزوري ده نو دي به دا وسله ستا په وړاندي و کاروي. غصه موقتي ليونتوب دی که ته چيري خوابدی بستري ته ولاړ شي نو شيطان به ستا د خوب بالښت شي. تاسو د هغه شي په اندازه چي تاسي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوصه کوي غښ یاست. یو عصباني کس هرڅه په بد ډول اداره کوي. کله چي تاسي یو چاته په غوصه شئ، نو تاسي کوښښ کوئ چي اور په باندي ووژنئ. کوم چي هاغسي نه کیږي. د ژوند حقیقت د هغه خالي لوښي په څیر دی کوم چي په ډیري آسانۍ سره په جوش راځي. یو لږ مقدار اندازه اوبه  تر ډیرو اوبو ژر په جوش راځي. عصباني خلک معمولا ډیر خالي خلک دي. غصه تر بل هرڅه بده ده. دا د دښمن لپاره خلاصي دروازي لري چي دښمن ددي لاري د خلکو ژوند اداره کوي. دا دښمن ته دا فرصت ورکوي چي په ودونو کي ویجاړۍ را ولي او هر رقم شیان تباه کړي.

دښمن ته ځاي ورکول د نورو په وړاندي د نه بخښونکي چلند څرګندول دي.  کله چي تاسو نور نه بخښئ هغه شیطانان چي د عذاب په نامه یادیږي خوشي کیږي تر څو تاسو په عذاب کي او ومو ځوروي. دښمن ته ځاي ورکول د هرچا په وړاندي د نفرت ساتل دي.  نفرت کول د کور د سوځولو په څیر دی یوازي ددي لپاره چي موږک ووژني. نفرت کول ځانته سزا ورکول دي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپاربښتني په لار کي نفرت د شیطانانو ولچک دي. که
یو ځل چي تاسو په خپل زړه کي نفرت ته ځاي ورکړئ.
دښمن مخکي لا ستاسي لاسونو ته ولچک اچولي دي.
نفرت سخت ګوزار ورکونکی دی تر هغه څه کوم چي
تاسو نفرت ورڅخه کوئ. کوم خلګ چي د یو بل نه
نفرت کوي د هغوي سره خداي هم مینه نه لري. هو
نفرت کول د سرطان د ناروغۍ په څیر دي. او انجیل
وایي چي متنفر قاتل دی. نو که ته د یو چا نه نفرت کوي
ته یو وژونکي یي.

دښمن ته ځاي ورکول د هغه څه په غاړه اخیستل دي
کوم چي په تاسو پوري هیڅ تعلق نه لري. کله چي ته په
غلا کي برخه اخلي او ښکیلیږي. ته دښمن ته ځاي
ورکوي. په ریشتیا هم اکثره ملتونه د غلو ملتونه دي.
هغه روحیه چي ما ولیدل ما یي هیله درلوده، ما واخیسته
او پټه مي کړه چي د ډیرو خلګو ژوند یي په ځان کي
نیولي وو. که څه هم خلګ کوښښ کوي چي د غلا
کولو مخه ونیسي. خو خلګ د نورو کلمو کارولو هڅه
کوي تر څو غلا په پټه کړي. دوي دا غلا داسي ګڼي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دومره شئ نه دي ریشتیا هم پر دوي هیڅ ثبوت نه وي خو بیا هم دوي غله وي. په نایجیریا کي دیته (یمبیزلمینټ) وایي چي معنی یي په امانت کي خیانت کول، یا غلا کول دي. که چیري ته د هغو خلګو سره حسد کوي څوک چي غلا کوي تاسو یو غل یاست. که تاسو په پټه د هغه چا ستاینه کوئ څوک چي درغلي کوي او له دوي سره مرسته کوئ تاسو یو غل یاست. که چیري تاسي ددي څخه ویره لرئ چي یوه ورځ به تاسي رسوا شئ له همدي امله تاسي غلا نه کوئ، تاسو یو غل یاست. هر یو پادري چي د ګټي لپاره وزیر وي هغه غل دی. که چیري ته د خپل شرکت سامانونه او اکمالات د مثال په ډول، کاغذونه، د پوستي ټاپي، پاکټونه ټلیفون او داسي نورد اجازي پرته استعمالوي تاسو ښه شریفه غل یاست. کله چي یو څوک تاسي ته کوم څه په امانت درکوي او تاسو یي د بیرته ورکولو څخه انکار کوئ او پر ناګاره کیږئ یا دا تمه لرئ چي د هغه به هیر شي تاسو یو غل یاست. د ازمویني په جریان کي نقل کول غلا کول دي. که ته چیري په پارک کي یو ولاړ موټر

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ځاي بوزي او ژر ژر يي بيرته راولي پر هغه ځاي يي ودروي په دي خاطر چي ته نه غواړي چي د موټر خاوند دي خبر شي يا نه غواړي چي د موټر د جوړيدو مصرف ورکړي. تاسو يو غل ياست. که تاسو د مراقبت په خاطر په ځان کي نا مناسب څه ساتئ تاسو يو غل ياست. دا به دښمن ته ددي موقع ورکړي چي ستاسو خوشحالۍ او برکتونه په سيند لاهو کړي. کله چي تاسي مالک ته د يو توکي په بيرته ستنيدو کي ناکام شئ، تاسو يو غل ياست. که تاسو د غلا کتابونه لولئ تاسو به ناکامه شئ. که تاسو قصداً وظيفي ته ناوخته ځئ او پوره معاش اخلئ تاسو يو غل ياست. کله چي تاسو د کمپنۍ څيزونه شخصي استعمالوئ تاسو يو غل ياست. که تاسو خپل کاري وخت په دفتر کي د يو مقدس کتاب په لوستلو هم تيروئ بيا هم تاسو يو غل ياست.

دښمن ته ځاي ورکول ستاسو په ملکيت کي ناوړه توکي ساتل دي. دښمن ته ځاي ورکول په خپله ژبه کي د ناکامۍ معنی لري. ژبه د ژوند او مرګ قدرت لري. تاسو کولاي شئ خپل ځان او نور په خپله خوله ووژنئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې تاسي د خپلي ژبي کنټرول له لاسه ورکړئ، تاسو دښمن ته یو ځاي ورکړي دی. دښمن ته ځاي ورکول د خپل شوق په کنټرولو کي پاتي راتلل دي. دښمن ته ځاي ورکول اندیښني او خفګان ته ځاي ورکول دي. انجیل وايي: دي ته اجازه مه ورکوئ چي زړه مو په خفګان کي و لویږي، په خداي باور و لرئ. دښمن ته ځاي ورکول د غم ډوډۍ خوړل دي. دښمن ته ځاي ورکول ستاسو په ژوند تریختیا ته اجازه ورکول دي. د هیڅ چا په وړاندي مه تریخیږه. دښمن ته ځاي ورکول د سرګردانه ارواحانو په لور د خپل ذهن خلاصول دي. اکثره خلک داسي دي چي د لمانځه پر مهال پر لمونځ کولو هیڅ تمرکز نه کوي. دوي سرګردانه ارواحانو ته ځاي ورکوي. دښمن ته ځاي ورکول د خپل پلار د کور خرابۍ ته دوام ورکول دي. دښمن ته ځاي ورکول پر ځان د جنت نعمتونه درول دي. دښمن ته ځاي ورکول پدي معنی دي چي خپل ځان د پیژندل شویو ارواحانو له سیني نه وباسي. هغوي ستاسو غوره ملګري دي چي ازاد ذهنیت او د پوښتني وړ شخصیت لري. دښمن ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځاي ورکول د دښمن په بل شوي اور کي ځان سوځول دي. دا هغه څه دي چي تاسي د ځينو ګټو په خاطر دښمن ته نژدي ورځئ چي دا به تاسو ته ډير ګران تمام شي. دښمن ته ځاي ورکول په هره تيروتنه کي ځان شکيلول دي. دښمن ته ځاي ورکول جسم ته اجازه ورکول دي چي ستاسو ژوند کنټرول کړي. کله چي ښاغلي جسم ستاسو د ژوند په تخت پريوزي ستاسو دښمن به ستاسو سره هر څه وکړي. دښمن ته ځاي ورکول پر ځان لعنت ويل دي. دښمن ته ځاي ورکول دښمن ته اجازه ورکول دي چي ستاسو په ژوند کي ځاي ومومي. دښمن ته ځاي ورکول سر د بلا په خوله ورکول دي. دښمن ته ځاي ورکول بيوزله ژوند کول دي. دښمن ته ځاي ورکول د هغه دښمنانو سره مقاومت ښيي چي له تاسو سره جنګيږي. مينه ناکه اوسه کله چي دښمن دمخه لا دننه وي هوښيار اوسه که ونه اوسي نابللي ميلمانه به په اسانۍ سره دننه درشي. کله چي دښمن د مخه لا دننه وي ستاسو شاوخوا ته به هر څه بدبخته وي. ښه شيان به ستاسو څخه لري شي او تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

به نه بخښل کېدونکي غلطۍ وکړئ. تاسو به یوازې د لنډمهاله هوساینې لپاره دعا کوئ ځکه چې دوی دمخه لا دننه دي. دوی یوازې یو څه انتظار کوي او بیا یې پېلوي کله چې دښمن د مخه لا دننه وي دښمن به د راتلونکو بریدونو لپاره ځینه جوړه کړي او ستا په دننه کې به خپلو هدفونو ته ځان ورسوي.

## څنګه د داسې دښمن سره معامله وکړو چې د مخه لا دننه وي؟

۱- د هرې ګناه څخه توبه وباسه.

۲- د دښمن څخه په بشپړه توګه نفرت وکړه.

۳- په ځان باور ولره او دښمن په شا ووهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**